# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Literary - Cultural | ادبی - فرهنگی |
|---|---|



محمد هارون خپل شعشعی


۲۹ جنوری ۲۰۱۳

## کره کتنه که کره کږنه؟

زه دعادت له مخي ډېري ويبپاڼي نه ګورم. که مي ريښتيا پوښتئ د کتلو حوصله او وخت يي نه لرم. په پښتو ويبپاڼو کي کله ناکله د« لروبر» او« بېنوا» په ليدو تنده ماتوم. د خپلو ماتو ګوډو ليکنو ډېره برخه هم و همدغو ويبپاڼو يا «افغانستان آزاد - آزاد افغانستان» ته ورلېږم. له دي سَوَبه نو په نورو ويبپاڼو کي د ځان او نورو ليکوالو په اړه د نقادانو په نظريو يا کره کتنو چندان نه خبرېږم. پرون مي نابېره وليدل، چي زما له کور، تاريخي کندهاره، ښاغلي نورالباري د تېر عيسوي کال د نومبر پر نه ويشتمه په « تاند» ويبپاڼه کي د دي عاجز پر هغه اثر انتقادي ليکنه کړي ده، چي« د نوي قاموس ليکني و ميتودولوژئ ته يوه کتنه» نوميږي.

و ښاغلي نورالباري خان ته کورودانی وايم، چي د دي ظاهراً نوي او بي بديله خو باطناً نيمګړي او کمزوري اثر د ځينو اړخو په اړه يي خپلي نظريي بيان کړي دي. لوی ښښتن دي ده او نورو ځوانانو ته قدرت او برکت ورکي، چي د دي شاګرد پر نورو ليکنو هم دقيق او اصولي نقد وکي. دا ډېره ښه خبره ده، چي د ښځايه ستاينو او تقريضونو پر ځای د يو بل د ليکنو پر ناقصو او کمزورو خواوو انتقادي خبري وکو؛او په دي توګه د هيواد په فرهنګي پرمختګ کي فعاله ونډه واخلو.

زه ښاغلی نورالباري نه پيژنم؛ نه مي تر اوسه په « لروبر» يا « بېنوا » کي د هغه څه ليکنه يا کره کتنه لوستي ده. کي ( که يي ) خپله ليکنه په دغو ويبپاڼو کي خپره کړي وای، ښايي په جواب موندلو کي دونه ځنډ نه وای پيښ سوئ. خير، ماهی چي هر وخت ونيسئ، تازه دئ. نقد هم هيڅکله زړښت نه لري. هر وخت چي تر ګوتو سي، ګټور او په زړه پوري دئ. زما په نظر علمي او مستندي کره کتني نه يوازي د اثر و ليکوال او نقاد، بلکي و ټولو علاقمندو لوستونکو ته د ليکني او څېړني په چارو کي نوي افقونه پرانيزي.

ښاغلي نورالباري په خپله کره کتنه کي دا حقير د استاد په نامه ياد کړئ دئ. په کنداريانو( کندهاريانو) کي متل دئ، چي وايي:« په يک که پوزخند وهي، نو ورته وايه، چي ځونوره( ځنوره ). ما غوندي حقير او فقير شاګرد ته د استاد لقب کارول په واقعيت کي همداسي توکه ده؛ ځکه زما په نظر ډاکټر کېدل او پوهاند کېدل ډېر اسانه؛ خو په واقعي مانا استاد کېدل، ډېر ګران کار دئ. د نورالباري خان له بيانه هم کله کله د همدی کنداری وراشي استشمام کيږي.

نورالباري خانه!

دا خبره سمه ده، چي زه« هنر» د« هونر»،« کلمه » د« کليمه»،« کوي» د« کيي» په بڼه کارم. د دي ليکدود يا املايي لاري په دفاع کي مي خپل دلايل او نظريي په هغه مفصله تحليلي او انتقادي مقاله کي بيان کړي دي، چي« په

ویلو او لیکلو کې همرنګي یا نیژدېوالی» نومیږي؛ او په څو برخو کې د « لروبر»، « بېنوا » او ځینو نورو ویبپاڼو له لارې خپره سوې ده. په دې لیکنه کې د پراخو مثالو په وړاندې کولو سره استدلال سوئ دئ، چې موږ پښتانه لیکوال باید کرار کرار په خپلو لیکنو کې د کښنګ( لیکدود) او وینګ( تلفظ) تر منځ بېلوالی ایسته کو؛ ځکه عقل او منطق دا نسي منلای، چې په خوله« هونر»،« هیلمند»،« هینداره »، « ګومان »،« ګونا»،« پینځم »،« روستم»، «سوهراب» وایو، خو په قلم یې«هنر»،« هلمند»،« هنداره»،« ګمان »،« ګناه»،« پنځم »،« رستم» او« سهراب » کاږو. زه نه پوهېږم، زموږ اړتیا او ناچاري په څه کې ده، چې« هیلمند»،« هینداره»،« پینځم » او داسي نور د «هلمند»، « هنداري» او« پنځم » په بڼه لیکو؟! زموږ پخوانو شاعرانو او لیکوالو خو نه یوازي عربي او پاړسي، بلکي خپل سوچه او سپېڅلي پښتو ټکي هم د زْوَر، زېر، پېښ او نورو عربي اِعرابو(نخښو) په کومک لیکل؛ مثلاً «چي »،« بلکي »،« ښه »،« ونه »،« اوبه »،« ګوندي »،« غوندي » او داسي نوري کلیمي یې زیاتره د« ښَ »، « ونَ »، « اوبَ »، « ګُندِ »،« غُندِ» او داسي نورو په ډول کښلي.

نورالباري خانه!

اوس نو تاسي په خپله قضاوت وکئ، چې کم ( کوم ) لیکدود د پښتنو د ژبې سم او دقیق استازیتوب کيي؟! ایا د ویلو او لیکلو تر منځ د جلاوالي او دورنګی سَوکه سَوکه ختمول د پښتو ژبې د اسانه کولو او پراخولو په لار کي لوی خدمت نه دئ؟! ایا د« هیلمند» او« هینداري» پر ځای د« هلمند» او« هنداره» لیکل کټ مټ داسي مانا نه لري لکه څوک چي د « آس » پر ځای « ټټو » یا د« ښامار» پر ځای« مار» کاږي. د دغو دلایلو له مخي، تر هغه ځایه چي ممکنه یي( وي ) د کلیمو په ویلو او لیکلو کي د تفاوت او دورنګی ورو ورو ایسته کول علمي او ګټور کار دئ. بېله شکه په پښتو لیکدود کي د اسانه کولو او علمي کولو بهیر پر دې ځای نه ختمیږي. باید د ضمیر او کومکي فعل، معروف( لنډ) او مجهول( اوږده ) واو، د دریم شخص او مخاطب، خج لرونکو او بې خجه ټکو و جلا کولو ته هم ټینګ پام و سي، که نه نو د بېلابېلو کلیمو په سهي( صحیح ) لوستلو کي له لویو کړاوو سره مخامخ کیږو. دلته یي د یو و نیم مثالو یادونه بې ګټي نه ده:

### د ضمیر او کومکي فعل فرق:

دی( اشاري ضمیر ) کور ته تللی دی(کومکي فعل ).

موږ ښايي د عادت له مخي د پورتنی جوملي په لوستلو کي تېروتنه و نه کو؛ خو که دا جومله د یوه غیر پښتون و مخ ته کښېږدو، په لوستلو کي د تېروتني احتمال څو چنده زیاتیږي؛ ځکه د بلي ژبې ویوونکی د پښتو جوملو په جوړښت نه پوهیږي.کېدای سي دواړه مشابه ټکي د ضمیر یا فعل په بڼه و وایي یا اول دی د« فعل» او دوهم دی د«ضمیر» په ډول و وایي، چي ګرده یې د جوملي په مانا پوهېدو کي ګراني پیښيي.

که پورتنی جومله په لاندي ډول ولیکل سي، د ضمیر او مرستندویه فعل تر منځ په اسانی توپیر کولای سو:

دی کورته تللئ دئ.

علي محمد مخلص( تر ۱۰۶۹ هـ ق پوري په یقین سره ژوندی ) په یوه میسره کي دی( ضمیر ) او دئ( فعل ) داسي راوړي:

دی قــدیم، عظیـــم دریـــاب دئ، کُل عالَم پر ده حُبـــاب دئ

دی تطهیـــــر د هـــــر ناپـــاک شه، پاک صفت غواړم لـــه پاکه

بل ځای داسي وایي:

دی اَلطــف دئ په لطیـف کښي ئي ځای وکه

## د معروف او مجهول واو توپير:

كه په ليكدود كې د معروف او مجهول واو توپير و نه كړل سي، د مشابه ټكو په لوستلو كې له لوى سرخوږي سره مخامخ كيږو؛ لكه په لاندي مثال كې:

نۇر[nūr] ( په معروف يا لنډ واو): رونا/ رڼا، روښنايي.

نور[nor] ( په مجهول يا اوږده واو): پاته/ پاتي/ پاتو؛ په پاړسي كې ديگر، ساير.

نْوَر[nwar] ( په معروف يا لنډ واو): لمر/ نمر.

## د دريم شخص او مخاطب صيغي توپير:

د پښتو په ديواني ادب كې داسي ډېري بولگي موندلاى سو، چې په يوه ميسره كې د دريم او دوهم شخص صيغي كار سوي دي.كه د دې دوو صيغو د جلا كولو دپاره له بېلوونكو نخښو څخه كار وانخيستل سي، لوستونكي په لوى ربړ او عذاب اخته كوو؛ لكه د علي محمد مخلص په دې بيتو كې:

حق جوهر ته ئـي عَرَض يې!

دى كـاغـذ ته پـــرې خضيبه

***

تـــه د كُل مخلـوقات رب هم ئي رازق يې!

د دولـــت پـــرورده تـــل اميـــد عفا ته

په مخكني بيت كې « ئي» و غايب شخص/ شي( مخلوقات ) او« يې» و دوهم شخص يا مخاطب( رب ) ته اشاره ده.

د غايب او مخاطب صيغو تر منځ دا توپير كول د فاضل استاد، ډاكټر عبدالرزاق پالوال، نوښت دئ.

كه د دې دوو بېلو حالتو د تشخيص او تفريق دپاره له بېلو نخښو څخه كار وانخلو، د ميسرې په لوستلو او سم مانا كولو كې له لوى تكليف سره مخامخ كيږو.

نورالباري خانه!

ما د مشابه ټكو په ويلو كې د خج يا فشار و مسألي ته هم پوره پام كړئ دئ؛ او د پښتو له درنو ژبپوهانو او ليكوالو څخه مي غوښتنه كړې ده، چې د دې معضلې د حل دپاره د يوې نخښې پر كارولو سوچ وكړي؛ مثلاً:

**كډه**( خج پر لومړى څپه ): [1] د كورسامان او اسباب.[2] د كور د سامانو او شيانو لېږل؛ په پاړسي كې كوچ، كوچ كشى.[3] مجازاً مېرمن، ماينه، مانډينه، منكوحه، څُگه، كوروالا، كورودانه، عورته/ اورته/ ارتينه . . .

**كډَه**( خج يا فشار پر وروستى څپه )كنده، ژور ځاى، ډب او داسي نور.

**واړه**( خج پر لومړى څپه ): ټول، گرده، درست؛ په پاړسي كې همه؛ په عربي كې كُل، تمام، قاطبه، كافه . . .

**واړَه**( خج پرورروستى څپه )كوچنيان، كمكيان، ماشومان، ووړ يا وړوكى مفرد.

اجازه راكئ، له نورالباري څخه پوښتنه وكم، چې د « نرى د لوى پښتون ژبپوهاند» په عالمانه اشارداتو كې د دغو حساسو املايي التباسو د ليري كولو په اړه، څه اروېدلي كه يا؟ كې نه دي اروېدلي دليل يې څه دئ؟! ايا د پښتو ليكدود و دغو لويو كمزوريو ته د هغه لوى ژبپوهاند پام نه دئ اوښتئ، كې د حل په لار سر نه خلاصېدئ؟! يو عِلت او سَوَب خو خامخا لري.

سره له دي ټولو علمي دلایلو او ښېګڼو، تاسي حق لرئ پر زما پر لیکدود د بدعت ، تفرد یا هري بلي بلا نوم کښېږدئ؛ خو زه یي د پښتو ژبي د پرمختګ او تکامل په لار کي مهم او ضروري ګام بولم .البته، زه د دې لاري نوښتګر او مؤجد نه یم. دا کار د نړۍ په ځینو نورو ژبو کي هم سوئ او زموږ خلګو هم د خپلو ژبنیو اړتیاوو له مخي پېړۍ پېړۍ مخکي په هغه لاس پوري کړئ دئ؛ مثلاً زموږ خلګو د خپلي اسانی او ضرورت پر اساس عربي «وقت »،« نعره»، « تعبیه»،« لعب »،« فهم »... په « وخت »، « ناره »، «تابیه/ تابیا »،« لوبه» او« پام » واړول؛ پارسي « آبدست »، « لشکر»، « کوشش»، « نمازدیګر»... یي په « اودس»، «لښکر»،«کوښښ» او« مازدیګر/ مازیګر/ ماځیګر»... او هندي« اډا»،« بوجهـ »،« جهګړا»، « دکهـ »، « دهندها»،« دهوکا»... یي په « اډه »،« بوج »،« جګړه »،« دوک »،« دنده »،« دوکه »... واړول؛ او دا بهیر تر اوسه ښېله ځنډ او خنډه جاري او ساري دئ. د دې مغفنو ټکو شمار زرو ته رسېږي. که ژوند یاري وکړه، انشاالله یو وخت بې له ریښو، شکلي او مانوي( معنوي ) بدلونو سره د فرهنګ یا قاموس په بڼه وړاندي کو. تاسي وګورئ ځلوېښت - پینځه ځلوېښت کاله دمخه د استاد حبیبي، استاد رشاد، استاد الفت، استاد بېنوا، استاد خادم او استاد رشتین په ګډون زموږ ټولو شاعرانو، لیکوالو او څېړونکو« چي »، « بلکي »، « مانا/ معنا » او داسي نوري کلیمي د« چه »، « بلکه » « معنی» په بڼه لیکلي. ښایي په دې دلیل، چي له یوی خوا د پښتو ادب په خطي اثارو کي په همدې بڼه راغلي دي؛ او له بلي خوا په پارسي او عربي ژبو کي په همدې بڼه رواج دي. زموږ لرغونو شاعرانو او لیکوالو هم دا رسم له عربي او پارسي ژبو څخه اخیستئ ؤ. تر پېړیو پېړیو چلن وروسته د ځینو پښتنو ژبپوهانو او لیکوالو و دې حقیقت ته پام واوښت، چي موږ ولي له بابا ادمه تر دې دمه « چه »،« بلکه »،« معنی » او داسي نور ټکي د پارسي او عربي په بڼه کاږو. دا لیکدود خو د پښتنو له وینګ او نورو فینالوجیکو/ فونولوژیکو خصوصیتو سره هیڅ سر نه خوري. د همدغو دلایلو له مخي ؤ، چي بالاخره د« چي »، « بلکي »، « مانا/ معنا » لیکدود پیل سو. د پښتو هیڅ منلي او وتلي استاد له دې علمي او منطقي بدلون سره مخالفت و نه کئ؛ او نه یي کولای سوای؛ ځکه د دې بدلون په را منځ ته کېدو سره پښتو لیکدود علمي تاداو پیدا کئ؛ او د پښتو ژبي میلیونونه زده کوونکي، لوستونکي او لیکوونکي له لویه عذابه خلاص سول. زه په پښتو او هره بله ژبه کي د دغه راز مثبتو او ګټورو بدلونو ټینګ پلوی یم. ښېله شکه د مثبتو او ګټورو فرهنګي بدلونو راوستل هم په انقلابي او ناڅاپي ډول نه غواړم؛ ځکه زموږ مرسوم او مروج لیکدود پر ټولو کمزوریو او نیمګړتیاوو سربېره له پېړیو پېړیو راهیسي چلېدلئ دئ. ځکه یي نو د پرمختګ، نوي کولو او علمي کولو په بهیر کي هم باید له پوره اتیات(احتیاط) او هوښیارۍ څخه کار واخیستل سي. زما په نظر د شاعر، لیکوال، څېړونکي او نورو علمي- فرهنګي مفکرانو رسالت هم دا دئ، چي د خلګو په ژبه خبري وکي. خپله وینا، لیکنه او هر څه د خلګو له منلو اصولو او قواعدو سره برابر کي. زما په نېز( نزد) هغه ادبیات او اثار، چي د اولس د ژبي، دود و بایدې، عقایدو او فرهنګي ارزښتو سمه او دقیقه ترجماني نه کیي، په یوه توت هم نه ارزي.

نورالباري خانه!

تاسي په خپله اقرار کړئ دئ، چي د هارون خیل لار اسانه او ساده ده. دونه ساده ،اسانه او طبیعي، چي حتا ستاسي لؤر غوندي کوچني ماشومان هم سرخوري او تکلیف نه ور سره لري. اوس نو تاسي د زیار صاب او ملګرو ټکي و ډېري د یوه ماشوم یا نالوستي شخص نه، بلکي د یوه با نام و نښانه پښتون شاعر، لیکوال او حتا ژبپوه و مخ ته کښېږدئ؛ او پوښتنه ځني وکئ، چي په پوهېدو او هضمولو کي څه حال دئ؟!

ښاغلی نورالباري و« هونر»،« هیلمند»،« هینداره»، « ګومان »،« ګونا» او داسي نورو املایي بڼو ته په خپله اصطلاح « ماشومانه اند» وایي. وروسته کاږي:« زما هم کله کله زړه وغواړي چي د استاد هارون خپل شعشعي غوندي(اسان لیکدود) خپل کړم، خو بېخي د لوی استاد علامه حبیبي رح، استاد صدیق روهي رح، او علامه رشاد

عليه رحمه او نورو پوهانو له ارواوو څخه شرم راته درېږي او ده ملګرو دي خبرې ته ځواب هم نه لرم چي آيا ټول ليکوالان نه پوهېږي چي هنر يي ليکي او ته تر هغوی ډېر پوه يې؟»

په دې ترتيب ګورو، چي نورالباري صاب نه د علمي دلايلو او شواهدو، بلکي احساساتو، شرم او پېغور پر اساس د دې عاجز پر اسانه او ساده ليکدود د بطلان کرښه باسي. زما و اسانه او ساده ليکدود ته په بې انصافی سره د بدعت او تفرد په سترګه ګوري؛خود ځان او ملګرو وليکدود ته دکاني کرښه وايي؛او په کارولو کي له هيڅا شرم نه کيي. له نورالباري، استاد او ملګرو څخه يي بايد پوښتنه وکو، چي ولي « ګومان » په واو ليکي؛ خو « هونر» او داسي نوربې واوه؟! ايا د ژبي قانونمندي و دې ته وايي، چي يوازي« ګمان» په « ګومان» واړول سي؛ خو زرونه نوري کليمي پر خپل حال پرېښول سي؟!

نورالباري خانه!

تاسي خو د شرم، حيا او پېغور لويي دعوې کړي دي؛ خو يو پلا خپله ليکنه( ليکدود، جوملي او جعلي لغتونه) د لوی استاد علامه حبيبي، علامه رشاد، استاد بېنوا يا نورو استادانو له اثارو سره پرتله کئ؛ او بيا وګورئ، چي ستاسي او هغو بزرګانو ترمنځ څه تړاو او نسبت سته که يا؟! که ستاسي سره د دغو استادانو د سپېڅلو ارواوو د خوشالولو غم وای، بيا خو مو په پټو سترګو بايد د داسي کسانو ځټل نويسي او پيښي نه کولای، چي ويل، ليکل، لغتپرانی او حتا فکر او ذکر يي له هغو سترو او وياړلو استادانو سره مځکه او اسمان فرق لري. ښايي دا خوی مو له خپل نابغه استاد، زيار صاب، څخه زده کړئ يي؛ ځکه هغه عاليجناب هم له يوې خوا و علامه حبيبي، استاد الفت، استاد رشتين او نورو استادانو ته د مُلايانو يا داسي کسانو په سترګه ګوري، چي د پښتو ژبپوهني په الفبې هم خبر نه دي؛ او له بلي خوا يي کله کله د خپلو شخصي او ګروهي مخسدو د تأييد او توجيه دپاره تر ستورو هم لوړ خېژيي.د نورالباري خان او زيار صاب په خبرو او عمل کي مي د دې تضاد او تناقض په ليدو سره د انګرېزانو هغه متل را په ياد سو، چي وايي:

**The devil can cite scripture for his purposes.**

يا

***The devil can quote Scripture for his own ends.***

ښاغلی نورالباري د خپلي ليکني په يوه بله برخه کي کاږي:« کتاب يي خدای شته په مجموع کي له مالوماتو او سپارښتنو ښه ډک دی، خو د استاد ليکدود او ځيني تفردات او بدعتونه سرې د استاد پر پوهه باندي شکمنوي.»

ستا جار سم نورالباري خانه!

په دې ترتيب مي د هغه داستان غټ ټکي در ته بيان کړل، چي تاسي يي تفردات او بدعتونه بولئ؛ خو په ناپوهی او بېچارګی کي مي هيڅکله شک او شبهه مه لرئ.

هارون تر هغي اندازې ډېر نادانه او ناتوانه دئ، چي تاسي يي تصور کوئ. يوازي زه او زما خدای په دې حقيقت ښه خبر دي؛ خوددې خبري مانا دا نه ده، چي تور ته سپين او سپين ته تور و وايم. د نامه، مقام ، پيسو او داسي نور بلا و بتر په سَوَب مي هيڅکله د ناسمي او کږې لارې پيروي نه ده کړې؛ او انشاء الله تر دې وروسته بې هم و نکم. د حضرت رحمان بابا په وينا:« لکه ونه مستقيم پر خپل مکان يم --- که خزان را باندي راشي که بهار».

نورالباري خانه!

هارون خپل که غلطي او تېروتنه و هم کي څه نقص او عيب نه ګڼل کيږي؛ ځکه د نامه تر ښنګ يي د پوهاند، ډاکټر، استاد، قاضي او مفتي القاب نه دي ليکل سوي؛او نه يي هيڅکله خپلي ماتي ګوډي خبري او نظريې د کاني کرښي بللي دي. خواري خود هغه چا په برخه ده، چي د کنداريانو په اصطلاح يي ګوز په تبر نه ماتيږي. علمي القاب اوعناوين

يي په شا نه وړل کيږي، خو په خبرو او ليکنو کي تعقل، منطق او علمي ارزښتونه په اوړو کي د مالګي تر اندازي هم لږ دي.

دا خبره سمه ده، چي زه د«وي » پر ځای « يي »، د« کوي » پر ځای « کيي»، د « وکړي» پر ځای « وکي » ليکم. دليل يي کنداری ليکدود نه، بلکي دا عمومي قاعده ده، چي په ويلو او ليکلو کي بايد د امکان تر حده ښېلوالی ليري سي. پر دې قاعدې د کنداري ليکدود نوم ايښوول ځکه سهي نه دئ، چي زياتره کنداري ليکوال او استادان په ليکدود کي د ويلو او ليکلو و يورنګی ته په ډېر ارزښت نه ګوري. زه فکر کوم، چي کيي، وکي، هونر، ګونا، ګومان، جوملة، روستم، سوهراب، چي، بلکي او داسي نور د ميليونو پښتنو د وينګ ( تلفظ ) او فينالوژيکو ځانګړتياوو واقعي ممثل دي. بالعکس کوي،وکړي، هنر، ګناه، ګمان، جمله، رستم، سهراب، چه، بلکه او داسي نور د زياترو پښتنو د وينګ استازيتوب نسي کولای. خلګ د زړو عادتو له مخي داسي بدلونونه په اسانی نسي منلای. ژبني او فرهنګی بدلونونه واوږدو زمانو ته اړتيا لري. باور لرم چي يو وخت به نه يوازي کنداريان، بلکي نور پښتانه هم د هغه پر حقانيت اعتراف وکي.

نورالباري خانه!

زه هغه څه چي تاسي يي د سربل او وستربل په نامه يادوئ،د«ادات» په نامه پېژنم. ادات **(prepositions)** هغه ناخپلواک يا اضافي ټکي/ توري دي، چي په يوازيتوب سره پوره مانا نه لري؛ خو په جوملة کي د دوو ټکو ترمنځ د تړښت او ارتباط په مخسد کاريږي لکه پر، په، تر، ته، د، له، و، څخه، راهيسي او داسي نور، چي کله کله د جوملي په سر، کله کله د عبارت په سر او کله کله هم د يوه عبارت په سر او پای کي راځي. په اداتو کي لو( لويه ) او ارزښتناکه خبره دا ده، چي دا ټکي په هيڅ ژبه کي ثابت او يورنګه قواعد نه لري. په بله وينا، هر چيري چي په وينګ کي دروندوالی( ثقلت) او پرېکون( سکتګي ) راولي، په هغه ځای کي له ليکلو يا استعمال څخه ډډه کيږي يا يي داسي ادات پر ځای کاريږي، چي د جوملي له روانی او سادګی سره مرسته کيي؛ خو د هغه چا په دې خبرو ژر سر نه خلاصيږي، چي هر څه يي د ميناوو او توتيانو په ډول زده کړي يي.ګرَم هم نه دي، ځکه چي له ړندو استادانو څخه په پټو سترګو سبق اخيستل همدا نتيجي لري. تاسي وګورئ په پارسي کي د« اروانشاد » دپاره هم « روانشاد» وايي او هم « شادروان ». هم « شنوندهٔ عزيز» ليکي او هم «عزيز شنونده». دواړه عيب نه ګڼي. له خپلو ليکوالو څخه د ګاډۍ اسان نه جوړيي، چي دې يا آ خوا ته نسي کتلای، بلکي ليکوالو او شاعرانو ته اجازه ورکيي، چي د فصاحت او بلاغت په چوکاټ کي نوي سکښتونه او جوړښتونه را وباسي. په ليکوالی او شاعری کي کمال دا دئ، چي د جوملو په جوړښت کي د هغو و لنډوالي، سادګی، روانی، پخوالي او اولسي تومني ته ژور پام وسي؛ مثلاً :« له کابل څخه تر کندهار پوري څلور نيم سوه کيلومتره لار ده.» دا جوملة د مانا، ګرامر او هر کم و کيف له نظره سمه او بشپړه ده؛ خو روانه او ساده نه ده؛ ځکه نو د هغي پر ځای دا اسانه او بهتره ده:« له کابله تر کندهاره څلور نيم سوه کيلومتره لار ده.» خلګ په اسانی او سادګی پسي ځي نه په تشو او زموختو ګرامري قاعدو پسي. ګرامري قواعد د اولس د ژبي له مخي جوړيږي او بدليږي نه بر عکس. زه تر ساده، رسا او خواږه بيان پوري و وچو او بې روحه ګرامري قواعدو ته هيڅ ارزښت نه ورکوم. په دغه جوملة کي، چي تاسي را اخيستي ده، که« له کوچنيوالي څخه مي له حقوقو سره ...» وکاږو، بيا نو په جوملة کي د سادګی او روانی روح مري. همدا وجه ده، چي داسي جوملي اولسي تومنه نه لري. زه تر خپله وسه کوښښ کوم، چي په ليکنو کي مي اولسي روح ژوندی وساتم. ياني داسي ټکي، عبارتونه، ترکيبونه، وراشي او جوملي راوړم، چي د خلګو په ورځنيو محاورو او مکالمو کي ويل کيږي.

تاسي له يوه پښتانه څخه پوښتنه وکئ، چي احمد چيري دئ؟ هغه په جواب کي در ته وايي:

د کوره وتلئ دئ.

له کوره وتلئ دئ.

یا په لنډ ډول :

وتلئ دئ.

په دې جوملو کې « څخه » ته هیڅ اړتیا نسته. ګرامر لیکوونکي باید دا قاعده په خپلو اثارو کې ثبت کې.

دا خبره سمه او سهي ده، چې « له » او « د » ادات په ټولو حالاتو کې یو د بل پر ځای نسي استعمالیدای؛ لکه ستاسي په لاندني مثال کې؛ ځکه د اولي جوملې مانا فصیح او بلیغه نه ده.

تل به دې ساتو د پردو وطنه (ناسم)

تل به دې ساتو له پردو وطنه (سم)

اما« له کوچنیوالي په دې شوق اخته یم » یا « د کوچنیوالي په دې شوق اخته یم » دواړې سمي او سهي دي.

احمد له کورڅخه وتلئ دئ

احمد د کورڅخه وتلئ دئ.

احمد له کوره وتلئ دئ.

احمد د کوره وتلئ دئ.

څلور سره جوملې د ګرامر او مانا له پلوه سمي او دقیقي دي؛ خو وروستۍ دوې تر لومړیو دوو ساده او رواني دي.

ما ته« د» په ډېرو حالاتو کې تر « له » ساده او روان بریښي. ستاسي ملګري، شفیق العالم معذوریار صاحب، ښځي سهي ویلي دي: (( د عمر د پختګۍ سره سم فکر هم پختګي مومي.)) که څه هم دا جومله په دې بڼه هم بالکل سهي ده:((د عمر له پختګۍ سره سم فکر هم پختګي مومي.)) له همدې سَوَبه زه د« لپاره/ له پاره » پر ځای « دپاره» کاروَم. د پښتو ادب په لرغونو متونو کې زیاتره« دپاره» راغلئ دئ نه « لپاره/ له پاره». تر پخوانیيو متونو خو لا ارزښتناکه خبره دا ده، چې دا ټکی تر اوسه زموږ په خلګو کې په همدې بڼه ویل کیږي. پر دې خبرو سربېره« لپاره/ له پاره » قطعاً غلط نه دي. له دواړو( دپاره او لپاره/ له پاره) څخه یو مفهوم اخیستل کیږي؛ او خلګ حق لري، چې د خپل ذوق له مخې په هغو کې چاڼ وکي. د پوهي او کمال څښتنانو ته نه ښایي، چې په دې یا هغه پلمه د خپلي ژبي لغوي زېرمه، ګرامري جوړښتونه او سکښتونه محدود کې. برعکس د لغوي زېرمي او ګرامري جوړښتو پراخوالی د یوې ژبي د بشپړتیا او پرمختیا څرګندوی دئ.

پاس په هوا راشه جانانه -- لارې کوڅې د غمازانو ډکي دینه (ناسم)

پاس په هوا راشه جانانه -- لارې کوڅې له غمازانو ډکي دینه (سم)

په دې لنډییوکي«د غمازانو» او« له غمازانو» دواړه عبارتونه سهي دي؛په مانا کې هیڅ ګډوډي یا نیمګړتیا نه پیښیي؛خو« لارې » او« ډکي» باید هیڅکله په اوږده یا مجهوله یاء و نه لیکل سي؛ ځکه په لیکنه کې مانوي(معنوي) التباسونه پیدا کیږي؛ لکه په دغو مثالو کې:

ډکه( خج پر لومړي سپوڼ ) یاني مالامال، بوزېدلی، د تش ضد؛ په پاړسي کې پُر، مملو، مشحون. جمع یې ډکي. ګونی ډکه ده. جعبې ډکي دي.

ډکَه( خج پر دوهم سپوڼ ) یاني پرې وهل، ښورول، خوځول، جټکه او داسي نور. جمع یې ډکې. موټر ته ډکَه ورکه! موټر ته مو ډېرې ډکې ورکړې؛ خو بیا هم چالان نسو.

مستې یاني خوشالي، بازی، لوبې، ساتیرې.

مستې یاني له شیدو څخه جوړ سوې خواړه، په پاړسي ماست.

په اوسني ټپل سوي نامعیاري لیکدود کې مستي او مستې، دواړه په مجهوله یاء کاږي.

په پاړسي کي له اوږدو زمانو راهيسي د مجهولي او معروفي ياء په ويلو کي روښانه توپير ؤ. اوس يې د معروفي او مجهولي ياء په نه بېلولو سره له زمري څخه شېدي جوړي کړي دي. شېر( زمری) او شير(شيدی/ شودې) دواړه په يوه ( معروفه يا لنډه ) ياء کاږي. له نېکه مرغه، په افغاني پاړسي( دري ) کي لا تر اوسه د دې دوو ټکو په ويلو( نه ليکدود) کي د معروفي او مجهولي ياء ږغونه خوندي دي؛ خو ډېر ژر به دلته هم تر خاور لاندي سي؛ ځکه خلګ تر وينګ پر ليکدود ډېر حساب کيي.

له زلمي سره ځم.

د زلمي سره ځم .

دواړي جوملي سمي دي. هيڅ فرق نه او برتري نه لري.

له احمد څخه مي کتاب واخيست.

له احمد څخه مي کتاب واخيستئ.

له احمده مي کتاب واخيستئ/ واخيست.

دري سره سمي او سهي دي.

له غرمي وروسته کور ته ځم.

تر غرمي وروسته کور ته ځم .

دواړي د مانا له اړخه سمي دي؛ ما ته دوهمه ښکلي او بهتره ايسي. زموږ خلګ يې هم دغسي وايي:

تر ډوډۍ خوړولو وروسته.

تر لمانځه وروسته او داسي نور.

له پرون راهيسي کار لرم. دا جوملهٔ بالکل سمه ده.

پر ځای يې داسي هم ويل کېدای سي:

له پرون څخه بوخت يم.

له پرون څخه مصروف يم.

له پرونه اخته يم.

له احمد پرته محمود هم راغلئ ؤ.

په دې او داسي نورو جوملو کي د« پرته » وکارولو ته هيڅ اړتيا نسته؛ ځکه « پرته » د پښتو په جنوب - لوېديځه لهجه کي د کرکي، کهښت او بد وړلو يا بد ګڼلو په مانا کاريږي؛ لکه په دغو جوملو کي:

پلاني خپل اصليت هېر کړئ دئ؛ مخ دې(دې يې) پرته سي.

پلاني له خپل قام او خپلي ژبي سره هيڅ وفا و نه کړه؛ مخ دې( دي يې) پرته سي.

ستاسي جوملهٔ بايد داسي وويل سي:

له احمد سره محمود هم راغلئ دئ.

د احمد سره محمود هم راغلئ دئ.

پر احمد سربېره، محمود هم راغلئ دئ.

غير له احمده، محمود هم راغلئ دئ.

احمد او محمود دواړه راغلي دي.

ښاغلي نورالباري د خپلې لیکنې په یوه برخه کې د قاموس لیکنې له مېتودولوژۍ څخه د یوې برخې تر اخیستلو مخکې دا تبصره کړې ده:« د کتاب پر ۲۲۱مخ استاد د ځینو ډېرو کمځواکو دلایلو په وړاندې کولو پر ټولو لوستو او نالوستو کسانو غږ کوي چې نوي لغتونه جوړ کړي. »

راسئ وګورو، چې د نورالباري خان په ګومان د دې دلایلو نیمګړتیا او کمزوري په څه کې ده؟ له کتاب څخه په اخیستل سوي بیان کې داسې راغلي دي:

(( په دې کې شک نسته چې ژبپوهان او لغتپوهان د نوو ټکو په جوړولو او غوره کولو کې تر نورو فرهنګیانو او عامو خلګو ډېره پوهه او مهارت لري، خو سره له دې هم د دې خبرې مانا دا نه ده، چې څوک د یوه تحصیلي ډیپلوم په استناد د ژبپوهنې او نیولوجیزم ټول واک یوازې او یوازې په خپلو لاسو کې واخلي، ځکه ژبه د خلګو مال دئ او هیڅ پوه او متخصص د دې حق نه لري، چې د خلګو ژبه او فرهنګي ارزښتونه د خپل شخصي ذوق او ذهني قضاوتو تابع کړي. که لوستو کسانو، یوازې د پوهنتونو د تحصیلي ډیپلومو په وړاندې کولو سره د خلګو پر ژوندانه د حکومت حق موندلای سوای، نو تر هر څه مخکې به طبیبانو حق لرلای، چې ناروغانو ته د زړه په غوښت دارو درمل تجویز کړي. په داسې حال کې چې د نړۍ تر ټولو لوړ او لوی طبیب هم دا حق نه لري، چې په خپلو طبي لارښوونو، مشورو او نسخو کې د طبابت له منلو اصولو او قواعدو څخه سر غړونه وکي. دغه راز،که یوازي تحصیلي سندو و لوستو کسانو ته د خپلسرو پرېکړو انحصاري حق ورکولای، نو قاضیانو او څارونوالانو به بې هېڅ ډېرې او اندېښنې د تورنو کسانو په ژوند د لوبو کولو حق لرلای؛ اما په عمل کې ګورو، چې حقیقت داسې نه دی، هیڅوک د نافذو قوانینو او مقرراتو له چوکاټه دوري هوري پېنه نه سي ایستلای. په دې نړۍ کې هیڅوک د خپلسرۍ او زورواکۍ حق نه لري. د نوو الفاظو د جوړولو مساله هم کټ مټ همداسې ده. ژبپوهان او لغتپوهان هم په دې بهیر کې د شخصي ذوق او ناروا لاسوهنې حق نه لري.د همدې استدلال له مخې باید د ټولنې هر وګړی (لوستی یا نالوستی) په بشپړې ازادۍ سره د لغت جوړولو په بهیر کې فعاله او چټکه برخه واخلي.))

نورالباري په خپله لیکنه کې پر دې اعتراف کیې، چې د هارون خپل د پورتني بیان د ردولو صلاحیت نه لري؛ خو د دې کار دپاره د ښاغلي صالح محمد صالح او خپل پیر، ښاغلي مجاور احمد زیار، بیانونه را اخلي. صالح محمد صالح سهي لیکلي دي:((که د ژبپوهنې لـه قواعدو او اصولو ناخبره کسان لغت جوړونې (نیولوجېزم) ته لاس غزوي، ښایي پایله یې ګټوره نه وي، ژبپوهان دغه کار ښه کولای شي.)) خو د هغه چا له بیان او استدلال سره موافقه نسي کېدای، چې هر څه یې د تضاد او تناقض په پردو کې نغښتي دي. ګران لوستونکي کولای سي په « لروبر» یا « بېنوا » کې د ډاکتر زیار د معیاري پښتو د تضادو او تناقضو په اړه د دې فقیر مفصله مقاله ولولي.

http://www.benawa.com/fullstory.php?id=50553

http://www.larawbar.net/32863.html

که څه هم د نوي قاموس لیکنې د مېتودولوژۍ له کتابه د نورالباري خان په را اخیستي او تر هغه وروسته خبرو کې هر څه له ژوندیو مثالو سره بیان سوي دي؛ خو د ده د لا ښه پوهولو دپاره دلته بیا هم د کتاب پر ځینو اړخو لنډه تبصره کوم:

زه پر دې ټینګ باور لرم؛او یو پلا بیا تکراروم،چې هیڅ عالِم او متخصص د خپل ډیپلوم په اِستِناد انحصاري حق نه لري، چې د اړونده علومو له منلو اصولو او قواعدو څخه سرغړونه وکي. د دې خبرې مانا دا ده، چې زیار صاب او د هغه په شان نور خپلسره او ځان غوښتونکي کسان حق نه لري، د خپلو ډیپلومو په استناد پر خلګو داسې څه وتپي، چې له عِلم، عقل او منطق سره اړخ ونه لګیې.که زیار صاب د پښتو ژبپوهنې او لغتپوهنې په ټول نرخ او نوا خبر

وای، بیا خو یې خپل حق و ناحق هیڅکله د پخو کاڼو او مُسلماتو په نامه پر خلګو نه تپل. تاسي په پښتو کي د زیار صاب او ملګرو لغوي کشفیات او تخلیقات وګورئ کله پارسي ټکي باسي، هندي یې پر ځای دریږي. کله هندي باسي، پاړسي یې پر ځای وړاندي کیږي،کله بې هیڅ اړتیا او ضرورته انګرېزي ټکي را مخته کیږي. هغه هم په داسي پېچلي، مروړلي او مسخ سوي شکل، چي له اصل سره برابري نه لري.کي په دې بازییو هم سات تېر نسو، بیا نو د عربي، پاړسي، هندي او داسي نورو پر ځای له یوه سره خپلي جعلي او ساختګي ټکي را باسي؛او هر یو بې سلا مشورې د معیاري ټکي په توګه پر خلګو تپي.کي د« مُشت نمونهٔ خروار» په بڼه ځو بولګي او مثالونه غواړئ د لاندني لینک په پرانیستلو سره د دې حقیر« سوچه پالنه که ژبورانوَنه؟!» مقاله وګورئ:

http://www.larawbar.net/32488.html

د زیار او ملګرو لغوي کشفیات په داسي تضادو او تناقضو کي پېچلي دي، چي دوی په خپله هم نه پوهیږي، څه غواړي او څه کیي؟! ځکه دا کار خو هیڅ منطق او تعقل نه لري، چي څوک د څورلسو سوو کالو اشنا، مأنوسي او مروجي عربي کلیمي و باسي او پر ځای یې، نه پښتو بلکي د هندي ژبي کلیمي و ټاکي یا د سوو کلونو مروجي پښتو یا هندي کلیمي ایسته کي، پر ځای یې ایرانی کلیمي و ټاکي یا هر شي ته بې پلټني او ګروېږني له ځانه لغتونه جوړ کي؛ او د ټولو ژبپوهانو، څېړونکو او لیکوالو بې سلا مشورې د پښتو ژبي د« معیار» نوم پر کښېږدي.د دې استدلال له مخي نو سړی په جرأت سره ویلای سي، چي ایرانیانو، روسانو، ستمیانو یا نورو پښتون دوښمنو عناصرو و پښتو ته دونه زیان نه دئ اړولئ لکه زیار او د هغه متعصبو ملګرو.

ګرانه وروره، نورالباري خانه!

په دې پوه سه، چي د زیار صاب او ملګرو کاروان د مکې پر ځای و ترکستان ته روان دئ. زیارصاب که ځان ته د ژبپوهني پوهاند او ډاکټر وایي؛ او تاسي یې د « اوسمهالي نړۍ یوازنی پښتون ژبپوهاند» بولئ، نو لطفاً دي خپل وضع کړي ټکي یا لغتونه د څو ناپیلو او باصلاحیته ژبپوهانو، لغتپوهانو، څېړونکو او ذوقمندانو و یوې جرګګی ته وړاندي کي، چي د سادګی، روانی، ژوروالي، خوږوالي، عاموالي، اصالت او داسي نورو اصولو په رڼا کي وڅېړل سي. زه چي د ښاغلي زیار د نیولوجیزم و کمزورییو ته ګورم، پوره باور لرم، چي په ځینو مواردو کي به حتا لړلوستي او نالوستي کسان هم تر هغه لوړ لمبر وګټي. د هغه لغت جوړونه تر ګرامري تېروتنو او ادبي ګډوډییو ډېره کمزورې ده. یو یا دوه لغتونه نه دي، چي سړی خبري پر وکي؛او هر کمزوری اړخ یې په ګوته کي. په خواشینی سره زیار صاب په خپلو لغوي کشفیاتو کتابونه ډک کړي دي؛او تر ګرده یې د خپلو سیاسي ملګرو او جاهلو شاګردانو په کومک په خپرولو کي هڅه کیي. دا خبره د یادوني وړ ده، چي که هر بل عالِم یا ماهر په دونه انحصارګری او یکه تازی د یوه عِلم ټولي واګي په خپل لاس کي واخلي، همداسي او همدونه تېروتني به کیي.

نیولوجیزم د پښتو په ګډون د هري ژبي مُبرمه او مُسلمه اړتیا ده؛ خو د نیولوجیزم مانا دا نه ده، چي له څورلسو سوو کالو راهیسي اشنا، اسانه او خوږې کلیمي په دې یا هغه ګونا له ژبي څخه و ایستل سي؛ او پر ځای یې داسي کلیمي و درول سي، چي یا له خیټي را وتلي یې یا د ډول ډول قومي، قبیله یي، سمتي او لهجه یي ناروغییو په زهرو لړلي یې. چنګېز او هلاکو هم له ژبي سره داسي ناروا او بې پروا کارونه نه کیي.

نورالباري خانه!

هو! هر لوستی او نالوستی کس حق لري، په لغت جوړونه کي پراخه او فعاله برخه واخلي. په دې شرط چي د دې کار استعداد او لیاقت ولري. په لغت جوړونه کي د برخي اخیستو مانا دا نه ده، چي هر څوک د شپې لغتونه جوړ کي او سبا یې سیده په ورځپاڼو، ویبپاڼو، رادیوګانو او تلویزونو کي خپاره کي. زما په نظر هر ادیب، ژورنالیست، شاعر، لغتپوه او ذوقمند( لوستی یا نالوستی ) نه یوازي حق، بلکي مکلفیت او مسوولیت لري، چي د پښتو ژبي په لغت

جوړولو کي پراخه او فعاله برخه واخلي؛ او د خپلو څېړنو، پلټنو او ذوقي پوهي پر بنسټ د پردو ژبو و هغو نوو( نه اشنا او مأنوسو) ټکو ته خپل لغتونه جوړ کړي، چي سبلاو غوندي زموږ و ژبي ته را ننوزي؛او زموږ خلگ يي په پوهېدو کي ډول ډول پېچومي لري. نوي لغتونه يا نوي ټکي ( نه وييرغاونه يا داسي نور نومونه) بايد تر جوړېدو وروسته د واقعاً باصلاحيته پوهانو( نه د زيار او ملگرو) و حضور ته وړاندي سي؛او د هغو تر هر اړخيزي شنني وروسته يې د سموالي يا ناسموالي په اړه پرېکړه و سي. په دې ترتيب، د لغت جوړوني معيار علمي او ذوقي صلاحيت دئ، نه د پاړسيوانانو خبره« قبالهٔ روباه». لکه څنگه چي ښاغلي صالح محمد صالح ويلي دي، ريشتيا هم ژبپوهان په ژبه او ادب کي د لاس لرلو په وجه تر نورو کسانو د نيولوجيزم تر عُهدې ښه وتلای سي؛ خو ژبپوهان څوک دي؟ ژبپوهان خو بايد د اسانه، خوړو او پخو لغتو په جوړولو سره ثابته کي، چي ريشتيا هم په ژبپوهنه، لغتپوهنه او نورو اړونده علومو کي ژور او پراخ لاس لري، نه دا چي د خپل ډيپلوم په استناد ځانونه کوزه و کوزه گر و گل کوزه وگڼي؛او بې نظرپوښتني پر خپل ښه او بد د معيار ټاپه و وهي. که شعر، لغت جوړونه او نور علمي ارزښتونه د مسلکي اديبانو او ژبپوهانو انحصاري صلاحيت او مسووليت وگڼو، بيا خو نه يوازي د لږلوستي او نالوستي، بلکي طبيبانو، حقوقپوهانو، ارواپوهانو او داسي نورو ماهرانو لاسونه هم له علمي او فرهنگي چارو څخه باسو؛ څکه دغه راز کسان خو يو هم د مسلک په لحاظ په شعر، لغت جوړونه او نورو علمي- فرهنگي چارو کي د قلم چلولو حق نه لري؛ حال دا چي موږ له پېړييو پېړييو څخه گورو،چي تر ټولو لوړ او ارزښتناک علمي - ادبي اثار د داسي کسانو له خوا هست سوي دي، چي د اديباتو يا ژبپوهني په پوهنځييو کي پښه هم نه ده ايښې. د ژبو او اديباتو په پوهنځييو کي ډېر پوهاندان گرزي؛ خو هر يو يې هرومرو په شعر، لغت جوړونه او نورو تخليقي- تحقيقي چارو کي تر نورو ښه نه دئ. د دې خبري مانا دا ده، چي د علومو په هره څانگه او هره برخه کي کاغذونه او شهادتنامي نه، بلکي استعدادونه کار کيي. د ژبپوهني، لغتپوهني، حقوقو او داسي نورو علومو واقعي استادان يوازي هغه څوک نه دي، چي د پوهنتونو کاغذونه په لاس کي لري.

نورالباري خانه!

که لغت جوړل د زيار صاب انحصاري حق او مسووليت وگڼل سي، بيا خو دې ښاغلي بايد د قاموس ليکني د ميتودولوژۍ ليکلو وياړ هم تر لاسه کړئ وای؛ حال دا چي په دې برخه کي د لسو ليکو په اندازه يوه مقاله هم نه لري. ايا دا په خپله په دې مانا نه ده، چي ژبپوهنه، لغتپوهنه، قاموس ليکنه او داسي نور علوم يوازي د کاغذ لرونکو کسانو انحصاري امتياز نه دئ؟!

موږ د اينترنيت په عصر کي ژوند کوو. په دې عصر کي دا گرانه نه ده، چي د نوو ټکو د جوړولو په برخه کي د نړۍ له گوټ گوټ څخه د لغتپوهانو، ژبپوهانو، ليکوالو، شاعرانو، ژورناليستانو او نورو لوستو يا نالوستو شوقيانو رايي او نظريي و پوښتل سي؛ او بيا د وړاندي سوو دلايلو او نظريو په رڼا کي د پښتو نوي ټکي خوښ سي. قرآن مجيد وايي:... وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ ...[۴۲: ۳۸] پښتانه وايي: سلاد مَرَو هونر دئ. عقل او منطق وايي: تر يوه د دوو، تر دوو د درو مشوره بهتره ده.

نورالباري د خپلي ليکني په يوه برخه د خپل لوی استاد، پوهاند ډاکتر مجاوراحمد زيار، دا بيان را اخيستئ دئ:

«هارون خپل د لوېديځ او لوېديز تر منځ په توپير هم نه پوهېږي. دی دا فکر کوي چي دا دواړه د يوی مانا لپاره کارول کيږي خو ليکدود او گړدود يي بېل دی، او دا سپارښتنه کوي چي بايد په لوېديځ يي وليکو حال دا چي لوېديځ مغرب او لوېديز مغربي ته وايي همدا ډول ختيځ او ختيز هم درواخله چي هارون خپل يي د ليکدودي توپير پرته يو گڼي.»

زه له پښتنو قاموس لیکوونکو، لغتپوهانو او ادبپوهانو څخه هیله کوم، چي ژر تر ژره د« مُعَظَم» استاد په دې نوي لغوي کشف ځانونه خبر کي. نه پوهېږم چي د افغانستان د علومو اکاډیمی قاموس لیکوونکو څنګه د خپل تشریحي قاموس د تألیف پر مهال و دې ارزښتناک لغوي کشف ته پام نه ؤ کړئ؟! سړی باید هغوی هم ګرم و نه ګڼي؛ ځکه کشف، هغه هم داسي بېساری کشف خو د هر چا کار نه دئ. یوازي زیار صاب غوندي « پُرنبوغه » ژبپوهان او لغتپوهان، چي د ده د ادعا له مخي یې په ژبپوهنه او لغتپوهنه کي نیمه پېړی کار کړئ دئ، کولای سي د لغتو دا پټي او نامکشوفي ماناوي را و سپړي. د افغانستان د علومو اکاډیمي باید هرومرو و ښاغلي زیار ته  د دې لوی او نوي لغوي کشف په بدل کي د« لوی علامه» لقب ور کي. که د علومو اکاډیمی لغتپوهان او قاموس لیکوونکي د زیار صاب و دې لوی کشف ته غاړه نه ایږدي، بیا نو د افغانستان نورو مشرانو لکه دوستم، محقق، خلیلي او د شمالي اتحاد و« فرهنګستان » ته په کار ده، چي د ډاکتر زیار دا لوی علمي او فرهنګي خدمت بې معاوضې پرې نږدي. اخیر شمالي اتحاد باید په دې و پوهیږي، چي په « فرهنګستان » باندي د « علومو اکاډیمی » اړول هم د همدې « متفکر» او « مبتکر» پوهاند غوښتنه ده.

نورالباري د«علامه» زیار صاب د پورتني لغوي کشف تر  بیانولو وروسته ادعا کیي، چي هارون خپل غوندي کسان بې سنده( د ده په اصطلاح بې لاسونده ) د سترو ژبپوهانو( مخسد یې علامه زیار) پر لیکنو سؤر قلم را اخلي؛ او په دې توګه په پښتنو کي و ملي نفاق ته لمن وهي.  راسئ د ده په خپل بیان کي ولولو:

« داسي کسان نو بیا د سترو ژبپوهانو پر لیکنو هم سور قلم را اخلي او بې له کوم لاسونده نیوکي وربانديَ کوي. او ځوانان بېلارې او ګمراه کوي، چي پښتانه بیا د خپل عادت له مخي دغه اختلافات نور  هم جدي اخلي او د ملي نفاق لامل یې ګرځوي.»

ګران لوستونکي ګوري، چي نورالباري په دې ناروا تورونو او تومتونو د یوه بې پرې، منور او باوجدانه لیکوال تر چوکاټ دباندي وزي؛ ځکه یې نو لیکنه د کره کتني پر ځای کره کږنه بولم.

له نورالباري خان څخه پوښتنه دا ده:که د هارون خپل په انتقادي لیکنو کي علمي او منطقي قوت نه وای، څنګه یې کولای سوای د دې زماني د هوښیارو او دراکو ځوانانو تېز او کنجکاو ذهنونه قانع کي. ایا تر دې لوی تومت( تهمت ) سته، چي هارون خپل بې دلیل او سنده د هیواد ځوانان ګمراه او بېلارې کیي؟! مګر  هارون خپل مداري یا جادوګر دئ، چي نه لیدلي نه کتلي د افغان ځوانانو زړونه او ذهنونه په خپل لاس کي اخلي؟! ستاسي دا تور په واقعیت کي د وطن د ویښو او ځیرکو ځوانانو و پوهي او تعقل ته سپکاوی دئ. که زما په دلایلو کي علمي او منطقي قوت نه وای، نو زیار صاب بې( به یې) په خپله جواب ویلی وای. علمي او منطقي استدلال په ښکنځلو او بازاري خبرو نه جوابیږي. دوهمه خبره دا ده، چي د نفاق او شقاق ږغ  خو د زیار صاب له « متضادو معیارونو» څخه راوزي. زه خو نه یوازي د ټولو پښتنو، بلکي د افغانستان د ټولو ورونو قومو مزبوت یووالی غواړم. ټول فکر او ذکر مي د افغانستان د یووالي، خپلواکی او سرلوړی پر محور راګرزېدلئ او را ګرزي. ټولي لیکني مي د یووالي، وروری او دوستی پیغامونه بیانیي. بالعکس زیار صاب او د هغه ملګري په هره ممکنه وسیله هلي ځلي کیي، چي د نورو معقول او علمي نظریات په لغته و وهي؛ او ځای یې و خپلو اپلتو ته خالي کي. د زیار او ملګرو له ورانوونکو کوښښو سره په هیڅ عنوان سر نسم ښوروﻻی؛ ځکه له ورایه ګورم، چي د پښتو ژبي و تباهی او ورانولو تې ملا تړلي ده. په دې ښه پوهېږم، چي د سپېڅلي او خوږی  پښتو پر ځای د کرغېړني مجاوري ژبي په خپرېدو سره، ټول پښتانه له پښتو څخه و پاړسي یا نورو ژبو ته تښتي او باید هم و تښتي؛ ځکه په هغه ژبه د چا کله سد رسیږي، چي لغتونه، ګرامر، لیکدود او نوري برخي یې بې پلټني او ګروېږني، بې سلا مشورې، د یوه شخص له ګېډي راوتلي یې؟! په نتیجه کي زموږ د مندو او پلرو ستر او ارزښتناک میراث ( سپېڅلي پښتو ) په خاورو کي ښخیږي. زه د زیار او ملګرو دا

ورانوونکي هلي ځلي د پښتنو د تاريخي دوښمنانو پروژه ګڼم؛ ځکه د هغو په دې حقيقت ښه سر خلاص دئ، چې په جنګ او زور له پښتنو څخه ميدان نه ګټل کيږي. د پښتو ژبې، پښتني دود و دستور او بالاخره افغاني هويت د ورک کولو دپاره بايد کمپيوټري وايرسو غوندي د پښتنو و مغزو ته لار پيدا کي. د ژبي او فکر ورانول د يوه قام د اېل کولو تر ټولو خطرناکه لار ده. په ډېرې خواشينی سره دې وايرسو اوس زموږ و ساده او خوږې ژبې ته ډېر لوی تاوان رسولئ دئ.

نورالباري د خپلي ليکني په پای کي کاږي:

« څه موده مخکي ما هم د خپل کندهاريت له مخي کندهاری لکيدود کاراوه، او چي په کومه ليکنه کي به (شو) ليکلی و هغه مي نه لوسته خو هغه د شفيق العالم معذوريار صاحب خبره ((د عمر د پختګی سره سم فکر هم پختګي مومي.»

که له نورالباري څخه څوک پوښتنه وکي، چي په پېژندل سوو کنداري ليکوالو او محققانو کي چا د« شو» نه لوستلو لاربښوونه در ته کوله ؟! خدای حاضر ناظر دئ، ما هيڅکله له پېژندل سوو کنداري استادانو او محققانو څخه دا نه دي اروېدلي، چي دا ولولئ او هغه مه لولئ. برعکس په دې واقعيت خبر يم، چي ډاکټر مجاوراحمد زيار او د هغه ملګرو په راديو تلوېزون کي و هغو افغانانو ته د خبرونو ويلو( نطاقی )کار نه ورکاوه، چي د مورنی لهجي په وجه يي «شو» او « شي » نسوای ويلای. اوس نو په خپله و وايه، چي چا نفاق و شقاق ته لمن وهل؟!

ګرانه نورالباري خانه!

ستا جار سم.

موږ بايد د دې سمت او هغه سمت، د دې قبيلي او هغه قبيلي، د دې قوم او هغه قوم له خطرناکو لومو څخه ځانونه و ژغورو. زما په مغزو کي هيڅکله د کندهار او وردګ يا کندهار او ننګرهار يا کندهار او پکتيا يا کندهار او پېښور خبره نه ده ګرزېدلي، بلکي همېشه مي د پښتو ژبي د سموالي او ناسموالي خبره په مغزو کي ګرزي. په «پټه خزانه» کي وګورئ، چي زموږ پخوانو شاعرانو، ليکوالو، مؤرخانو او عالمانو پښتو ټکي( سي، سو، ږغ، کښېښوول، ايښوول، بخښل، نخښه، ښکنځل او داسي نور) څنګه ليکل او ستاسي په قول د اوسنی نړی لوی پښتون ژبپوهاند، مجاور احمد زيار صاب، يې څنګه کاږي؟! که د قلندر مومند پر لار رهي ياست،« پټه خزانه» پر لو لار پرېږدئ، ورسئ د روښانيانو او ختيکو اثار وګورئ، چي هر ځای« ږغ »،«کښېښوول»، « بخښنه »،« نخښه »،« کښې» په څه ښه کښل سوي دي؟!

نورالباري خانه!

مالومېږي چي په هر کار کي د حقايقو او مداركو پر ځای پر احساساتو او نفسياتو تکيه کوئ. تعصب، عقده پالنه او احساسات له علم او عقل سره اړخ نه لګيي. زه ځکه په خپلو ليکنو کي« بخښنه»،« نخښه»،« سي »،«کښېښوول»،« ږغ »،« لوېديځ »او داسي نور ليکم، چي دا يي لرغوني، اصلي، سهي او علمي شکلونه بولم،نه په دې خاطر، چي علامه حبيبي يا علامه رشاد يا بل کنداري استاد په دې ډول کښلي دي. سره له دې هم،که څوک په خپلو ليکنو کي دا ټکي د«ښښنه»،« نښه »،« شي»،«کېښوول»،« غږ »،« لوېديز» او داسي نورو په ښه ليکي يا په ظرفي حالاتو کي د «کښي/ کي » پر ځای « کې » کاږي، زه هيڅ ګيله و مانه نه ځني لرم. په دې چي دا لار دوی ته اسانه ده. مشکل او اختلاف يوازې په دې کي دئ، چي ښاغلی زيار او ملګري يي خپل ناسم او مسخ سوئ ليکدود د « معيار» په توګه پر نورو تپي.

د پښتو په ټولو لرغونو خطي اثارو کي تقريباً هر ځای« کښے » د« کښي يي» په مانا کار سوئ دئ. د پښتو د جنوب - لوېديځي لهجي ويونکي يي همدا اوس هم په همدې مفهوم استعماليي؛ خو زيار صاب او د هغه پلويان يي په ټولو

ظرفي حالاتو( لکه په کور کښي/ کي، په المارۍ کښي/ کي، په میاشت کښي/ کي، په کال کښي/ کي ) کي د معیار په توګه پر موږ تپي. باید ټینګار سره و وایو، چي په ظرفي حالاتو کي د( کښي یا کي » کارول سهي نه دئ. ښاغلی زیار او ملګري د خپلو لهجه یي مشکلاتو او نیمګړتیاوو له سَوَبه د پښتو ژبي لرغوني ړغونه او تر اوسه ژوندي املایي جوړښتونه تر پښو لاندي کيي؛ او د دې ناسمو او نامعقولو کارو د توجیه دپاره، چي نوري خبري پر ودرېږي، د دې یا هغي لهجې د اکثریت( ډېري ) او اقلیت( لږي ) خبري کیي.

ګرانه نورالباري خانه!

ز ه هغه څه چي په قرآن او حدیث ثابت دي، د دې یا هغه سپین لنګوټي په فتوا هیڅکله نه بدلوم .

ما همېشه په خپلو لیکنو کي یادونه کړې ده، چي« شو» او « سو» ولوستونکو ته هیڅ نه ورکیي. موږ باید د خپلو لیکنو و محتویاتو ته ژور پام وکو. هره لیکنه چي غني محتویات او ساده بیان ولري، د لوستونکو و زړونو ته لار پیدا کيي. پښتانه او غیرپښتانه لوستونکي ګرسره په دې خبرو پسي نه ګرزي، چي د لیکوالو په لیکنو کي« شو» کښل سوئ دئ که « سو». پر خلګو د ړندو او چادیانو ګومان مه کوئ! خپل او پردي ټول په دې کوچنیو او بې ارزښته توپیرو ښه پوهېږي. استاد حبیبي، استاد الفت، استاد بېنوا، استاد رشاد، استاد خادم، استاد رشتین، استاد کامل مومند، استاد سیال کاکړ، غني خان، حمزه بابا او سوونه نور هغه لیکوال، شاعران او څېړونکي دي، چي د پښتو د هري لهجي ویونکي یي له اثارو سره مینه لري؛ او په خوند خوند یي لولي؛ ځکه پښتون واحد قام دئ؛ او د واحد قام ژبه هم طبعاً یوه ده؛ خود هري بلي ژبي په څېر په پښتو ژبه کي هم د بېلابېلو لهجو یا څانګو له وجوده نټه نسي کېدای. د پښتون قام په سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او اقتصادي اړخکو کي لا د پراګندګي او کمزورۍ له کبله تر اوسه د یوې منلي معیاري ژبي و مخ ته ځیني څنډونه او خنډونه پراته دي. موږ ټول باید دا واقعیت پر سر او سترګو و منو. د پښتو معیاري ژبه د سوټي په زور نه، بلکي د پښتنو د لا زیات یووالي او نیژدېوالي په نتیجه کي منځ ته را تلای سي.که غواړو چي و دې ستر او لوړ ارمان ته و رسیږو، باید د ټولنیز ژوندانه په ټولو برخو کي د پښتنو د یووالي او پیوستون و داعیې ته پرله پسي او نه ستړې کېدونکی کار وکو. زیار صاب او د هغه سیاسي ملګرو ته لا تر اوسه دا حقیقت نه دئ روښانه، چي په افغانستان کي ولي د روسانو مزدور نظام ړنګ او نور تېل سوي نظامونه هم یو په بل پسي نسکوریږي؟!

د پښتنو د ژبي، ادبیاتو، دود او دستور، تاریخ او ویاړنو ساتنه تر هغه وخته ممکنه نده، چي د پښتون قام پر ضد د بېلابېلو دوښمنانو د ظلمو او ناروااوو مخه و نه نیول سي؛ ځکه نو باید په ټول واک او ځواک سره کوښښ وسي، چي تر هر څه مخکي د پښتنو د ژوند، خاوري او خپلواکی دفاع وکو. دا خبره هم باید ټینګه په یاد ولرو، چي پښتانه له بېلابېلو قومو، ژبو، مذهبو او فکري ډلو سره په ګډه ژوند کيي. د پښتون اولس د ژغورني او فرهنګي اعتلاء تر څنګ باید د نورو ورونو قومو و ژغورني او فرهنګي بشپړتیا ته هم جدي پام وکو؛او ټول یو وجود وګڼو. هغه پښتون، بلکي هغه سکه ورور څوک څه کيي، چي د دې ګډ تاریخي کور د دوښمنانو په لیکو کي ولاړ یي؛ او له هیڅ راز شرمناکو معاملو څخه مخ نه اړيي. د دې خبري مانا دا ده، چي موږ باید نه یوازي په خپله ژبه کي د بېلابېلو لهجو او فکري توپیرو بشپړ زغم ولرو، بلکي د نورو ژبو، مذهبو او فکري لارو له پالوونکو سره هم په مینه، خوشالی او روغه جوړه کي ژوند وکو.

یادونه: دا لیکنه په « تاند» ویبپاڼه کي د نورالباري د «کره کړني » په جواب کي کښل سوې ده. « تاند» ته مو ور ولېږله؛ خو مسوولینو یي له خپرولو ډډه وکړه.